# د افغانستان اقتصادي پرمختګ

## (خبرپاڼه)

دویم کال-۱۲مه ګڼه | پرله‌پسې ۲۶مه ګڼه

نېټه: ۱۴۰۳/۴/۵



په افغانستان کې هره اونۍ په بېلابېلو سکټورونو کې مهم اقتصادي فعالیتونه او پرمختګونه رامنځته کېږي. د افغانستان اقتصادي پرمختګ (خبرپاڼه) همدغو مهمو او وروستیو اقتصادي فعالیتونو او پرمختګونو ته پوښښ ورکوي.

## په دې ګڼه کې لولئ:


۱- د ستېنډرډ عالي شورا فوق العاده غونډه کې ۵۷ ستېنډرډونه او ازمایښتي کړنلارې تصویب شوې

۲- د اقتصادي کمېسیون له لوري د افغانستان اقتصادي پالیسي تایید شوه

۳- د چین-سویلي اسیا نندارتون کې افغاني تولیدات ننداري ته وړاندې شول

# د ستېنډرډ عالي شورا فوق العاده غونډه کې ۵۷ ستېنډرډونه او ازمايښتي کړنلارې تصويب شوې

د ستېنډرډ عالي شورا څلورمه فوق العاده غونډه د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ د ۱۴۰۴ کال د جوزا مياشتې په ۳۱مه نېټه په مرمرينه ماڼۍ کې جوړه شوې وه. دا غونډه د عاليقدر اميرالمؤمنين شيخ صاحب د حکم پر بنسټ رابلل شوې وه، ترڅو د ستېنډرډ ملي اداره او د بې‌کيفيته تېلو د مخنيوي هيئت په ګډه د واردېدونکو تېلو له پاره نوي نورم جوړ او د عاليقدر اميرالمؤمنين شيخ صاحب له دفتر سره يې شريک کړي. په غونډه کې د رياست الوزرا اقتصادي مرستيال ووېل چې اقتصادي ثبات او پر ځان بسيا افغانستان ته معيار او کيفيت اساسي ارزښتونه دي. محترم ملا عبدالغني برادر اخوند زياته کړه چې معياري کول نه يوازې د صنعت، سوداګرۍ، کرنې او توليداتو د کيفيت تضمين کوي، بلکې دا د صادراتو د زياتوالي، د مصرف کوونکو د حقوقو خونديتوب او نړيوالو بازارونو ته د لاسرسي له پاره يوه حياتي اړتيا ده. په ياده غونډه کې د نفتي توکو په برخه کې شپږ ستېنډرډونه او ۵۱ ازمايښتي کړنلارې تصويب شوې. دغه ستېنډرډونه د ډيزلو، پټرولو، مايع ګاز او پايدار



کاندنسات ګازو اړوند دي. دا اقدام د وارداتي تېلو د کيفيت د لوړولو او د بې‌کيفيته موادو د مخنيوي لپاره ډېر مهم و.

د افغانستان اسلامي امارت د ستېنډرډ ملي اداره د هېواد د توليداتو، صادراتو او وارداتو په برخه کې ستېنډرډونه جوړوي او هغه بيا د ستېنډرډ عالي شورا له لوري تصويبېږي. د ستېنډرډ عالي شورا تردې وړاندې هم په بېلابېلو برخو کې لسګونه ستېنډرډونه تصويب کړي او په هېواد کې د توکو د معيار او کيفيت د تضمين په موخه به دا لړۍ دوام ولري. د تصويب شويو ستېنډرډونو مطابق فعاليتونه نه يوازې د داخلي بازار د ثبات له پاره مهم دي، بلکې نړيوال بازارته د لاسرسي او هلته د پاتې کېدو له پاره هم اړين دي. که چيرې د هېواد ټول اړوند سکتورونه د تصويب شويو ستېنډرډونو مطابق خپل فعاليتونه تنظيم کړي، نو له يوې خوا به اقتصادي پراختيا رامنځته شي او له بلې خوا به هېوادوالو ته خوندي، باکيفيته او روغتيايي توکي وړاندې شي.

د معيارونو تصويب، پلي کول او څارنه د هېواد اقتصادي بنسټونه پياوړي کوي، پر سوداګرو باور رامنځته او لوړوي او نړيوالو بازارونو ته د صادراتو لاره هواروي چې له امله يې افغانستان د اقتصادي ودې او ځان بسيانې په لوري ځي.

# د اقتصادي کمېسيون له لوري د افغانستان اقتصادي پاليسي تاييد شوه

د اقتصادي کمېسيون نوبتي غونډه د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ د ۱۴۰۴ کال د سرطان په لومړۍ نېټه جوړه شوې وه. په ياده غونډه کې د افغانستان اسلامي امارت اقتصادي پاليسي د بحث له پاره وړاندې شوه چې له هر اړخيزې ارزونې وروسته تاييد شوه. دغه پاليسي د رياست الوزراء اقتصادي معاونيت د هدايت پر اساس او د افغانستان پراختيايي تګلارې په رڼا کې تدوين شوې ده. ياده پاليسي د اقتصادي معاونيت په مشرۍ د اړوندو وزارتونو او ادارو په همکارۍ چمتو شوې ده. د اقتصادي پاليسۍ لېدلورې پر اسلامي اقتصادي نظام ولاړ پرمختللی او سوکاله افغانستان دی. د دغې پاليسۍ عمده موخې د پانګونې د جذب او پراختيا له پاره د مناسب چاپېريال رامنځته کول، د کورنيو توليداتو او صادراتو زياتول، د کاري فرصتونو کچې لوړول او د بېوزلۍ کمول او پايداره اقتصادي پراختيا او وده ده. د هېواد شرايطو ته په کتو د يوې اقتصادي پاليسۍ جوړولو له پاره جدي اړتيا وه. د يادې پاليسۍ پر بنسټ به د هېواد اقتصادي فعاليتونو له پاره

مناسب مسیروټاکل شي، له سرچینو څخه به غوره ګټه واخیستل شي، د هېواد اقتصادي فعالیتونه به همغږي او عواید به زیات شي او سربېره پردې به په هېواد کې د پانګونې کچه لوړه، د خصوصي سکټور ملاتړ او متوازنه اقتصادي پراختیا او اقتصادي ثبات به رامنځته شي. یاده پالیسي د عالیقدر امیرالمؤمنین شیخ صاحب دفتر ته د منظورۍ له پاره واستول شوه، چې له توشیح وروسته به په هېواد کې پلي شي. که چېرې دغه پالیسي په غوره ډول پلي شي، نو پایله کې به یې په هېواد کې اقتصادي وده رامنځته او د بېکارۍ او فقر کچه به د پام وړ کموالی ومومي.



## د چین-سویلي اسیا نندارتون کې افغاني تولیدات ننداریې ته وړاندې شول

د ریاست الوزراء اداري مرستیال محترم ملا عبدالسلام حنفي د چین-سویلي اسیا په نهم نړیوال نندارتون کې د ګډون په موخه چین هېواد ته سفر کړی و. نوموړي د نندارتون په پرانیستغونډه کې د خپلې وینا پرمهال وویل، یاد نندارتون کې د افغانانو ګډون د افغانستان او چین ترمنځ د تاریخي اړیکو نښه ده. نوموړي زیاته کړه، دغه نندارتون د سیمې د هېوادونو ترمنځ د اقتصادي، کلتوري او سیاسي همکاریو د پراختیا له پاره یو مهم فرصت دی.

د ریاست الوزراء اداري مرستیال زیاته کړه، افغانستان د چین او د سویلي اسیا له هېوادونو سره د کانونو استخراج، انرژۍ، ترانزیټ، ټکنالوژۍ او سوداګرۍ په برخو کې د همکاریو پراختیا ته لېواله دی او په سیمه کې د ځانګړې موقعیت په لرلو سره افغانستان کولی شي چې د مرکزي، سویلي او ختیځې اسیا ترمنځ د نښلوونکي پُل په توګه مهم رول ولوبوي.

د چین-سویلي اسیا نهم نړیوال نندارتون کې د نړۍ له ۵۴ هېوادونو څخه ۱۴ سوه شرکتونو ګډون کړی و. له افغانستان څخه هم یو شمېر سوداګرو ګډون کړی و او هلته یې په ۸۸ غرفو کې د افغانستان محصولات ننداریې ته ایښي وو. غالۍ، لاسي صنایع، زعفران، وچه میوه او نور بېلابېل توکي د افغان سوداګرو له لوري




ننداریې ته وړاندې شوي وو. افغان سوداګرو په دغه نندارتون کې د ګډون له امله خوښي څرګنده کړې او هیله یې ښودلې چې د دوی محصولات به نړیوالو بازارونو ته لاره ومومي. په دغه ډول نړیوالو نندارتونونو کې د افغان سوداګرو ګډون نه یوازې د افغانستان د تولیداتو او صادراتو له پاره مهم فرصتونه برابروي، بلکې د کورني تولید د هڅونې، د پانګوالو د جلب، کاري فرصتونو د ایجاد او په ټوله کې د افغانستان اقتصادي وده کې مهم رول لوبوي.